# د شرعیاتو پوهنځیو په درسي منهج کې د متنونو ارزښت- ځانګړتیاوې او غوښتنې

**پوهنوال ډاکټر محمد مزمل اسلامي**

د تفسیر او حدیث دیپارټمنټ، د اسلامي علومو پوهنځي، د ښوونې او روزنې پوهنتون، کابل، افغانستان
ایمیل: mmislami@gmail.com

**لنډیز**

متنونه؛ نېغ په نېغه په درسي منهج (نصاب) پورې کوم چې د تحصیلي نظام د ملا تیر جوړوي تړلي او د شرعیاتو او اسلامي علومو پوهنځیو د درسي منهج منځپانګه جوړوي. په دغه مقاله کې د متنونو ارزښت، ځانګړتیاوې او غوښتنې په توصیفي میتود باندې په خپلو معتبرو او اصلي سرچینو کې څېړل شوي دي؛ په پای کې موندل شوي چې متنونه یو لړ علمي ځانګړتیاوې لري، چې په درسي منهج کې د هغو اړتیا ته یې خورا ځانګړی ارزښت بښلی دی. د الفاظو پوخوالی او ایجاز، علمي عمق او ژورتیا، د افکارو ځنځیري تسلسل، د ژبې اصالت او د دیني علومو له اصلي سرچینو سره یې تړلی قدامت د متنونو له مهمو ځانګړتیاوو څخه دي چې ځانته ځانګړې او مشخصې غوښتنې او مقتضیات لري چې باید په دقیقه توګه د درس او د تدریس په بهیر کې په جدي توګه په پام کې ونیول شي چې د تدریس پروسه خپلو موخو او هدفونو ته ورسیږي.

**کلیدي اصطلاحات**: شرعیاتو پوهنځی؛ درسي منهج او نصاب؛ متنونه؛ ارزښت؛ ځانګړتیاوې؛ غوښتنې

# قيمة المتون في المناهج الدراسية لكليات الشريعة- ميزاتها و مقتضياتها

**الأستاذ الدكتور محمد مزمل اسلامي**

محاضر بقسم التفسير والحديث، كلية العلوم الإسلامية، جامعة التعليم و التربية، كابل، افغانستان
الايميل: mmislami@gmail.com

**ملخص**

المتون لها صلة مباشرة بالمناهج الدراسية التي تمثل عمودا فقريا للنظام التعليمي، و هي تشكل صلب المواد الدراسية في المناهج الدراسية في كليات الشريعة و العلوم الإسلامية. درس هذا المقال قيمة المتون، و ميزاتها، و مقتضياتها في المناهج الدراسية لكليات الشريعة والعلوم الإسلامية في مصادرها الإصليلة؛ فوجد أن لها ميزاتها العلمية قد وهبت لضرورة وجودها في المناهج الدراسية أهمية خاصة. إيجاز الألفاظ و صلابتها، و عمقها العلمي، و تسلسل أفكارها، و أصالة لغتها، و اتصالها المباشر بمصادر العلوم الشرعية من أهم ميزات المتون والتي تقتضي اهتماما خاصا لمراعاتها في عملية التدريس بدقة و جدية كي تصل عملية التدريس إلى أهدافها المرسومة.

**الكلمات المفتاحية**: كليات الشريعة والعلوم الإسلامية؛ المناهج الدراسية؛ المتون؛ قيمة؛ مقتضيات

**سريزه**

الحمد لله وحده، والصلاة والسلام على من لا نبي بعده، أما بعد:

د علم زده کړه او ښوونه یوه شرعي فریضه، غوره عبادت او الله پاک ته د قربت او نږدې کېدو تر ټولو ښه وسیله ده. د شرعیاتو او اسلامي علومو پوهنځیو محصلینو ته چې د علم په ښه زده کړه کې ښه مرسته کولی شي هغه یو مناسب درسي منهج او نصاب دی. د اسلامي او شرعي علومو په منهج او نصاب کې د محصلینو د علمي نبوغ او پیاوړتیا لپاره تر ټولو زیات مؤثر مضامین هغه علمي مختصرات او متونه دي چې حفظ شي او ښه زده کړی شي. ځکه نو محصلینو او طالب العلمانو ته په ځانګړې توګه په شرعي علومو کې اړین دي څو یو شمېر مروج متون حفظ او ښه زده کړي. د همدې له پاره د شرعي علومو متخصصینو د دیني مدارسو او اسلامي علومو پوهنځیو په درسي نصابونو او مناهجو کې یو لړ متونه مقرر کړي دي.

درسي منهج او نصاب د علمي موادو د تدریس او تطبیق له هغه دستور او تګلارې څخه عبارت دی چې تحصیلي او تعلیمي نظام پرې ولاړ دی.

پخواني مناهج او نصابونو ډېرې ساده او تقلیدي طریقې او تګلارې لرلې چې استاذ او ښوونکی به پکې واکوال و او د تدریس او تطبیق عملیه به غالبا طالب العلم ته په تلقین باندې ولاړه وه. خو منهج په نوي مفهوم سره ټول هغه علمي مواد او عملي مهارتونه او وړتیاوې دي چې تحصیلي او تعلیمي مؤسسه یې د محصلانو او طالب العلمانو د مرستې په موخه د مؤسسې په د ننه او بهر کې تنظیموي، چې پکې تر ډېره حده د زده کوونکو میلان، اړتیاوې او د هغوی اهتمامات او پاملرنې په نظر کې نیول کیږي، هغوی ته واک ورکول کیږي څو دوی سره مناسب تربیوی مهارتونه او وړتیاوې انتخاب کړي او له استاذانو سره په ګډه یې د برابرولو او لاسته راوړلو لپاره کار وکړي.

څرګنده او بدیهي ده چې ښوونیز او تعلیمي مناهج او نصابونه د یو شمېر بدلونو له کبله - لکه: د انساني نظریاتو تنوع او اختلاف، د پوهنې او معارفو پرمختګ او پراختیا، په تکنالوژۍ او تخنیکي وسایلو کې بې کچې پرمختیا، دټولنو په فرهنګي، ثقافتي او فکري ډګرونو کې تحولات اوبدلونونه او داسې نورو- ورځ له بلې توپیر مومي، نوې انساني اړتیاوې پیښیږي او پدې توګه مناهجو کې تغییر راځي، پرمختګ کوي او پراختیا مومي. د دې لازمې غوښتنه داده چې وخت په وخت مناهج او نصابونه له سره وکتل شي او لازم نوښت پکې راوستل شي. پدې تېرو څلورو لسیزو کې افغاني ټولنه د پورتنیو بدلونونو او پرمختګونو ښه بیلګه ده. مهمه داده چې د مناهجو په پرمختګ او پراختیا کې علمي مختصرات او اصلي

متنونه د کمیت او کیفیت له مخې کمزوري نشي چې په پایله کې به بیا د تعلیمي او تحصیلي مناهجو موخې متضررې شي.

په دغه لنډه مقاله کې د شرعیاتو او اسلامي علومو پوهنځیو په درسي منهج کې د متنونو ارزښت، د هغو ځانګړتیاوې او غوښتنې څېړل کیږي.

**د مسئلې بیان**

د شرعیاتو او اسلامي علومو پوهنځیو په درسي نصاب کې د مقرر شویو علمي مختصراتو او متنونو زده کړې او تدریس ته هغسې چې ښایي پاملرنه نه کیږي. د دغو مختصراتو او متنونو علمي اغېزه کمه شوې، د محصلینو په علمي مستوی کې یې مثبتې نښې لږې ښکاري.

د شرعیاتو او اسلامي علومو پوهنځیو محصلین د مختصراتو او متنونو پوهېدو کې ستونزې لري، د هغو له تدریس څخه شکایتونه لري او هغه ورته په زړه پورې ندي او په ازموینو کې په نوموړو مضامینو کښې ښې نمرې نشي اخستی چې د دې ټولو په پایله کې د فارغانو علمي دقت کمزوری او د عربیت، بلاغت او فصاحت مستوی په مطلوب حالت کې نه وي.

**د موضوع ارزښت**

له کومه ځایه چې متنونه په مستقیمه توګه تر درسي منهج او درسي نصاب (curriculum) پورې تړلي دي کوم چې د تحصیلي نظام د ملا تیر جوړوي نو ځکه موضوع خورا ځانګړی ارزښت لري. درسي نصاب او منهج پورې اړوند هره غټه او وړه، او مثبته او منفي موضوع نیغ په نیغه په تحصیلي او تعلیمي بهیر او د هغه پر پایلو او نتائجو اغېزه لري.

جوته ده چې دشرعیاتو او اسلامي پوهنځیو کې اصلي متون د درسي منهج او نصاب منځپانګه جوړوي. او دا چې مناهج د ټولنیزو هر اړخیزو بدلونونو له کبله د بدلون او پراختیا په حال کې دي نو د متنونو برخلیک باید روښانه، ډاډمن او د زیاتې پاملرنې وړ وي.

متنونه په تعلیمي مناهجو او نصابونو کې له پخوا زمانو راهیسې موجود وو که څه هم د متن په نامه نه پېژندل کېدل بلکې مختصرات بلل کېدل[1].

پدې توګه متون له نسلونو، نسلونو راپاتې میراث او علمي شتمني ده چې زمونږ علمي سرچینې او فکري مراجع جوړوي او تل زمونږ د مناهجو او نصاب منځ پانګه وي او په هیڅ صورت کې ترې مستغني کیدلی نشو.

1. إسماعيل عبد عباس، ۲۰۱۹م، تعريف المتون وأقسامها (علمي مقاله).

د شرعي علومو د زده کوونکو په اعداد او چمتو کولو او په هغو کې د فقهي ملکې پیدا کولو کې د متونو او مختصراتو د حفظ او یادولو ارزښت تر هېچا پټ ندی. هغه متونه کوم چې ډېرو سترو علماوو د خپلو عمرونو په قیمت باندې د دین او علم د خدمت په موخه لیکلي دي؛ خو په خواشینۍ سره چې نن سبا د زده کوونکو پاملرنه ورته کمه شوې ده، په ځانګړې توګه د لسانس د مرحلې او جامعي تعلیم په زده کړه کې[2].

متن د یوه علم مدخل دی چې محصل او طالب العلم په لږ وخت او اسانۍ سره پرې د علم تل ته لاره کولی ش؛ متن هغه بنسټ او تاداو ته ورته دی چې دنګې ماڼۍ پرې ودانیږي او متن د یو علم لپاره داسې دی لکه د ونې له پاره تخم او زړی چې را زرغون شي او ورځ تر بلې یې ښاخونه غټیږې او څانګې یې خپرېږي.[3]

د متونو په اړه د علماوو دغه اقوال را نقل شوي دي:

من حفظ المتون... حاز الفنون

من حفظ الأصول... ضمّن الوصول

من لم يتقن الأصول... حُرم الوصول

د پورتنیو ارزښتونو له امله متونو په علمي او اکاډمیک ډګر کې د تاریخ په اوږدو کې خپل رغنده او اغېزمن رول لوبولی او لا لوبوي یې.

له پخوا راهیسې د اسلامي امت په اسلافو کې د قوي، علمي او مختصر متن د لیکلو سیالۍ شتون درلود، چې یونوعه ډېر اغېزمن علمي او سالم رقابت و چې د استعدادونو په ښېرازۍ کې یې ارزښتناک رول لوباوه.

له بل پلوه دغو متونو ته پاملرنه هم یوه علمي سالمه سیالي وه چې د علماوو ترمنځ خورا ګرمه او توده وه. پر متونو باندې شرحې، حاشیې او تعلیقات لیکل د علماوو او پوهانو ترمنځ د علمي سیالۍ خورا ډېره سلنه جوړوي. مونږ داسې متونه هم لرو چې په لسګونو شرحې، حاشیې او تعلیقات پرې لیکل شوي دي. نن سبا د پخوانیو متونو علمي تحقیق او کره کتنه د ماسترۍ او دکتورا د رسالو پراخه سیمه ده.

## څېړنموخه

څېړنه دوه ډوله موخې لري: اصلي موخه او فرعي موخې.

---

[2] - أمين صالح غماز،۲۰۱۵م، المتون العلمية و دورها في إعداد طالب العلم الشرعي (علمي مقاله).

[3] - أبي مالك،۲۰۰۷م، لماذا ينصحُ أهلُ العلم بحفظ المتون؟ (علمي مقاله).

**اصلي موخه**

د څېړنې اصلي موخه داده چې د شرعیاتو او اسلامي علومو پوهنځیو په درسي نصاب کې د علمي مختصراتو او متونو ارزښت او اهمیت جوته او روښانه شي.

**فرعي موخې**

۱- د شرعیاتو او اسلامي علومو پوهنځیو په نصاب کې د متونو د ځای کولو موخه څرګندول.

۲- د شرعیاتو او اسلامي علومو پوهنځیو په نصاب کې د متونو علمي ځانګړتیاوې په ګوته ګول.

۳- د متونو په زده کړه او تدریس کې د متونو او مختصراتو غوښتنې جوتول.

**د څېړنې پوښتنې**

کولی شو د څېړنې پوښتنې اصلي او فرعي ته ووېشو او پدې توګه یې مطرح کړو.

اصلي پوښتنه: د شرعیاتو او اسلامي علومو پوهنځیو په نصاب کې متونه څه ارزښت لري؟

**فرعي پوښتنې**

۱- د شرعیاتو او اسلامي علومو پوهنځیو په نصاب کې د متونو د ځای کولو موخه څه ده؟

۲- د شرعیاتو او اسلامي علومو پوهنځیو په نصاب کې متونه کومې ځانګړتیاوې لري؟

۳- د شرعیاتو او اسلامي علومو پوهنځیو په نصاب کې د متونو غوښتنې کومې دي؟

**د څېړنې مخینه**

په علمي نصابونو او عامو علمي ډګرونو کې د مختصراتو او متونو په اړه په عربي ژبه د کتاب او مقالو په بڼه عمومي لیکنې شوې دي چې ځینو یې یوازې د متونو منثور او منظوم انواع او اقسام ټول کړي او معرفي کړي، ځینو د هغو د حفظ او له یاده زده کولو ګټې او فائدې بیان کړي، او ځینو یې د طالب العلمانو په علمي وده او پوخوالي کې د هغو رول څېړلی دی؛ لکه:

۱- عبد العزیز بن إبراهیم بن قاسم، ۱۴۲۰هـ، الدلیل إلی المتون العلمیة (کتاب).

۲- محمد بن عبد الله المقشي،(...)، سلم المتون في مختلف الفنون (علمي مقاله).

۳- اسماعیل، ۲۰۱۹م، تعریف المتون وأقسامها (علمي مقاله).

۴- اسماعیل، ۲۰۱۹م، فوائد حفظ المتون (علمي مقاله).

۴- أمین صالح غماز، ۲۰۱۵م، المتون العلمیة و دورها في اعداد طالب العلم الشرعي (علمي مقاله).

خو د لسانس په کچه د د شرعیاتو او اسلامي علومو پوهنځیو په درسي منهج او نصاب کې د متونو د ارزښت، ځانګړتیاوو او غوښتنو په اړه په پښتو ژبه زما د معلوماتو پر بنسټ کومه څېړنه نده تر سره شوې.

**د څېړنې منهج**

د موضوع طبیعت ته په کتو سره د څېړنې منهج او تګلاره استقرائي او توصیفي غوره شوې ده.

**د متنونو پېژندګلوي**

**متن د لغت له مخې**

(متن) دمیم په فتحې او د تاء په سکون سره د لغت له مخې په ډېرو معناوو اطلاق کیږي چې ځنې له هغو څخه په لاندې توګه دي:

قسم (لوړه)، نکاح، په تازیانه وهل، په ځمکه کې سفر، راګاږل او کشول، د ځمکې کلکه او لوړه برخه، غښتلی شخص، لفظ او داسې نور[4].

دلته مراد له متن څخه الفاظ مراد دي، که څه هم ټولې معناوې سره نږدې دي؛ ځکه په ټولو کې د قوت، متانت او صلابت معنا پرته ده[5].

**متن په اصطلاح کې**

متن په اصطلاح کې ګڼو علماوو په مختلفو او سره نږدې عباراتو تعریف کړی دی چې دلته د ښې روښانتیا او ښې استفادې له پاره هغه ټول عبارتونه ذکر کیږي.

۱ - د یوفن مبادي او اصول چې په وړو رسالو کې راټول شوي او عادتا له هر ډول استطراداتو څخه لکه شواهد او مثالونو خالي وي.

۲ - متن هغه اصل کتاب چې د مسائلو اصول پکې لیکل کیږي، چې مقابل ته یې شرح ویل کیږي.

۳ - هغه علمي مختصرات چې بنسټي او اساسي مسایل پکې ځای پر ځای شوي وي.

۴ – د اهل علمو تر مینځ متداول مختصر کتاب.

۵ - هغه لیکنه چې شرح او حاشیه ولري؛ لکه د هدایې متن، چې مراد ترې بدایة المبتدي ده نه هدایه.

٦ - د هغه کتاب الفاظ چې شرح کیږي او حواشي پرې لیکل کیږي.

پدې توګه د (متن) اصطلاحي مفهوم له پورتنیو تعریفونوڅخه روښانه او مشخص کیږي چې ویلی شو متن عبارت دی له: په وړه رساله کې راټول شوې مختصر کلمات چې ښکلي عبارتونه لري، په اسانه لوستل کیږي، الفاظ یې لنډ وي، معناوې یې زیاتې وي، له تفصیلاتو او استطراداتو پاک وي که د نظم په بڼه وي او که د نثر په بڼه.[6]

---

[4] - ابن فارس، (متوفی۳۹۵هـ)، معجم مقاییس اللغة ۲۹۴\۵، ابن منظور (متوفی۷۱۱هـ)، لسان العرب ۳۹۸\۱۳.

[5] - ابن فارس، (متوفی۳۹۵هـ)، معجم مقاییس اللغة ۲۹۴\۵. ودې کتل شي: إسماعیل، ۲۰۱۹م، تعریف المتون وأقسامها(علمي مقاله).

[6] - عبد العزیز بن ابراهیم، ۱۴۲۰هــــ، الدلیل إلی المتون العلمیة: ص ۴۰، أمین صـالح غماز، ۲۰۱۵م، المتون العلمیة و دورها في إعداد طالب العلم الشرعي (علمي مقاله).

**د متونو ډولونه**

متونه ځانته متعدد او مختلف اعتبارونه لري چې دهغو له مخې سره ویشل شوي دي.

د زده کونکو د مستوی په اعتبار سره متونه په درې ډوله دي:

۱ - د مبتدئینو او لومړنیو زده کوونکو لپاره په یوه ځانګړي علم کې لیکل شوي متونه. چې غالبا لنډ، اسانه او د دوي له مستوی سره مناسب وي.

۲ - د متوسطینو لپاره لیکل شوي متونه چې له لومړي ډول څخه پکې معلومات او تفصیلات نسبتا زیات وي.

۳ - د متقدمینو (المنتهینو) لپاره لیکل شوي متونه چې د یو علم په هکله پکې له مخکینیو دواړو ډولونو څخه پراخ او ژور معلومات ځای پر ځای شوي وي.

متونه د وخت او زمانې له مخې په دوه ډوله دي:

۱ - پخواني او قدیمي متونه.

۲ - نوي او معاصر متونه.

متونه د لیکنې د بڼې او طبیعت له مخې په دوه ډوله دي.

۱ ـ نثري متونه یا منثور متونه، چې دا ډیری دي.

۲ ـ منظوم متونه په شعري بڼه چې دې ډول ته تعلیمي شعر هم ویل شوی.

منظوم متونه په دوه ډوله دي.

په یو مستقل علم کې لیکل شوی متن او په څو علمونو کې لیکل شوی متن.[7]

**په مناهجو کې د اصلي متونو د ایښودو موخه**

د متونو او مختصراتو د لیکلو موخه د کوم نفلي عمل ترسره کول یا د علمي هوس پوره کول نه، بلکې یوه ستره موخه او ستر مقصد دی چې هغه دعلم په زده کړه کې د تدرج او پړاویزتوب اصل او اساس پامنیوی دی، کوم چې د تعلیم او تحصیل له ثوابتو څخه دي. د متونو او مختصراتو موخه د لومړنیو اسانه مسایلو راټولو دی څو دعلم په طلب کې یوه ګټوره پیلامه وي[8].

**پر متونو نیوکه**

ابن خلدون صاحب (متوفی ۸۰۸هـ) د خپل تاریخ په شپږ دېرشم فصل کې په تعلیم کې د مختصراتو قضیه څېړلې ده او د متأخرینو د زیات شمېر علماوو پر متونو باندې یې نیوکه کړې او هغه یې د یسر او

---

[7] - محمد بن عبد الله المقشي، (...)، سلم المتون، ص:٦٦-٦٥، عبد العزيز، ١٤٢٠هـ. الدليل إلى المتون العلمية، ص: ٤٠، أمين صالح غماز،٢٠١٥م، المتون العلمية و دورها في اعداد طالب العلم الشرعي (علمي مقاله).

[٨] - إسماعيل عبد عباس،٢٠١٩م، فوائد حفظ المتون (علمي مقاله).

بلاغت پر خلاف او د مبتدیانو په ضرر ګڼلي دي، لکه په فقه او اصول فقه کې د ابن حاجب مصري(متوفی٦۴٦هـ) متنونه، په عربیت کې د ابن مالك اندلسي (متوفی ٦٧٢هـ) متنونه او په منطق کې د افضل الدین خونجي (متوفی٦۴٦هـ) متنونه.[9]

خو د ابن خلدون صاحب د نیوکې سره، سره متون لاندې ښېګڼې لري.

1. متنوع، ډېر او ژور معلومات او د هغو محکم ترتیب له ځان سره لري.
2. د یوه فن اجمالي تصویر وړاندې کوي چې زده کوونکی کولی شي په لږ وخت کې یې په ذهن کې کېنوی.
3. دغه متنونه ځانګړي جهد غواړي چې په زده کوونکو کې ځانګړې علمي ملکه رامنځته کوي.
4. متنونه ډیر علمي حقیقتونه په څو پاڼو کې راټولوي چې په اسانۍ سره حفظ کېدای شي او هر وخت او هر ځای کې ترې استفاه ممکنه ده.
5. د متنونو په حفظ سره د طالب العلم بلاغت، فصاحت، بیان، او لغوي او انشائي اړخونه تقویت مومي.
6. په ذهن کې د معلوماتو پاتې کېدل، او د دې ګټه هلته څرګندیږي چې کله کتاب ورك شي، یا تیاره وي او رڼا نه وي او یا سترګې ړندې یا کمزورې شي او یا کومه بله ستونزه وي چې لیکلي معلوماتو ته لاس رسی ګران وي.
7. په بیړه او اسانۍ سره معلومات استحضارېدل. په کره توګه د علم ضبط، ورسره د حافظې غښتلتیا، د هوښیارۍ وده او د وخت سپما.
8. متن د یوه علم مدخل دی چې په لږ وخت او اسانې سره پرې زده کونکی د علم تل ته لاره کولی شي.
9. متن هغه بنسټ او تاداو ته ورته دی چې دنګې ماڼۍ پرې ودانیږي.
10. څوك چې متن حفظ کړي هغه تر نورو زیات د ابتکار، ابداع او اجتهاد وړتیا تر لاسه کولی شي.
11. د متن په حفظ سره طالب العلم سل په سلو کې په خپله خبره باوري او ډاډمن وي.
12. پدې عصر کې چې جعلي او د درواغو اسناد ډېر دي د متن حفظ تر ټولو ښه سند او شهادتنامه ده[١٠].

---

[9] - ابن خلدون، (متوفی۸۰۸)، تاریخ ابن خلدون: ۷۳۳\۱

[10] - عبد العزیز،۱۴۲۰هـ، الدلیل إلی المتون العلمیة، ص: ۷۰، أمین صالح غماز،۲۰۱۵م، المتون العلمیة و دورها في اعداد طالب العلم الشرعي (علمي مقاله)، أبو مالك العوضي،۲۰۰۷م، لماذا ینصحُ أهلُ العلم بحفظ المتون؟ (علمي مقاله).

**د مختصراتو او متني مضامینو ځانګړتیاوې**

د شرعیاتو او اسلامي علومو پوهنځیو په تعلیمي منهج او نصاب کې اصلي متون ګڼ شمېر ځانګړتیاوې لري چې د نوموړو متونو په تدریس کې ځانګړي غوښتنې لري چې که هغه په نظر کې ونه نیول شي او مراعات نکړی شي نو تدریس به خورا بې کیفیته او بې مزې وي او منهج به خپل هدفونه ترلاسه نکړی شي.

دلته په لنډه توګه لومړی د دغو متونو له ځانګړتیاوو او ورپسې د هغوله تدریسي غوښتنو څخه یادونه کیږي:

**لومړی: ځانګړتیاوې**

**۱- تاریخي لرغونتیا او قدامت**

دمتونو لومړنۍ ځانګړنه او مشخصه د هغوی تاریخي لرغونتیا او قدامت دی. تاریخي قدامت او وړاندې والی په ډیرو مسایلو کې خورا مهم ارزښت بلل کیږي. له نیکه مرغه د شرعیاتو او اسلامي علومو پوهنځیو په خپل درسي منهج او نصاب کې د پیړیو پیړیو پخواني متونه لري چې له هماغه وخته تر نن پورې په منظمه توګه تدریس کیږي.

**۲- د ژبې اصالت**

په عمومي توګه ژبه د وخت په تیریدو تغییر مومي او د خلکو او ټولنې له هراړخیزو بدلونونو او پرمختګونو سره بدلون مومي، که تاسو د پښتو او دري د څو پیړیو مخکې کوم متن پیدا کړئ نو په ګرانه به یې ولولئ او په معنی به یې پوه شئ. دا ځکه چې مونږ د پښتو او دري ژبو ډیر څه له لاسه ورکړي دي، خو عربي ژبې خپله اصیله بڼه ساتلې ده چې پدې کې مهم او اساسي رول همدغو متونو لوبولی دی.

**۳- د افکارو او تجاربو ځنځیري تسلسل**

د شرعي علومو متونه او په مختلفو پړاوونو کې د هغو شروح، حواشي او تعلیقات په مجموع کې د پخوانیو علماوو د تجاربو، افکارو، تصوراتو، عواطفو، مشاعرو او استعدادونو ځنځیري تسلسل دی چې د علم او پوهې پرمختیایي او انکشافي توریث او تداوم یې جوړکړی دی.

**۴- د الفاظو قوت او د عبارت پوخوالی او ایجاز**

قوي الفاظ او کلمات، لنډ او موجز ترکیبات او د لوړې مستوا علمي عبارتونه د متونو بل هغه ځانګړی ډګر دی چې که له یوې خوا د هغوی د مؤلفینو د لوړو استعداد، علمي دقت، وړتیاوو او عالي افکارو

ځرګندونه کوي، له بلې خوا په جوامع الکلم کې اصول راټولول او له تفصیلاتو او جزئیاتو څخه ډډه ده ځو د حفظ او له یادو زده کولو لپاره مناسب وي.

د یادونې وړ ده چې زمونږ د امت دسترو عالمانو زیاته اتکاء پر حفظ باندې وه ځکه نو هغوی د اسلامي علومو په هره څانګه کې یو شمېر مختصر متونونه د حفظ لپاره جلا کړي وو. زمونږ د سیمې علماوو هم ځانته د حفظ لپار ځانګړي متونونه لرل؛ لکه چې وایي:

کافیه با شافیه، تلخیص، سلم، حسامي این پنج یاد کن که شوي مولوي جامي.

زما په یاد دي چې په مدرسو کې به ځنو طالب العلمانو د ابن حاجب صاحب کافیه او د میر سید شریف جرجاني (متوفی۸۱٦هـ) صرف میر له یادو زده کوله!

حقیقت دادی چې د اسلامي علومو یو شمېر متونونه، د هغو لیکنه او حفظول د اسلامي امت د متقدمینو پوهانو دلوړ همت، پراخو حوصیلو او پیاوړو ارادو ځرګندونه کوي چې متاسفانه نن سبا مونږ وینو چې د قرآن کریم د مفصلو سورتونو د قصارو حفظ هم په ځنو باندې بوج وي!

**۵ - ثابت او واحد مرجعیت**

متونونه هغه اصیل او ثابت مراجع دي چې زمونږ فکري او علمي مرجعیت ته یې وحدت او ثبات وربښلی دی او په عامه توګه یې د امت د علمي او فکري وحدت په مسئله کې خورا مهم رول لوبولی دی، په افریقا کې د مصري عالم امام طحاوي رحمه الله (متوفی ۳۲۱هـ) د (العقیدة الطحاویة) متن د دې خبرې یو غوره شاهد دی چې په ټوله اسلامي نړۍ کې لوستل کیږي.

نن سبا د امت په فکري او علمي ډګرکې یوه اساسي تشه د فکري او علمي مراجعو تشتت او بې ثباتي ده چې امت یې وېشلی، په جګړو یې اخته کړی او بلا فتنې او بدمرغۍ یې زېږولي دي.

**د متونو یو شمېر مشهور مثالونه**

العقیدة الطحاویة د امام طحاوي او جوهرة التوحید د ابراهیم لقاني مصري (متوفی ۱۰۴۱هـ) په عقیده کې.

سفینة النجاة د سالم الحضرمي (متوفی ۱۲۷۱هـ) او د أبي شجاع (متوفی ۵۰۰هـ) متن (الغایة و التقریب) په شافعي فقه کې.

الورقات د امام الحرمین جویني (متوفی۴۷۸هـ) په اصول فقه کې.

کافیه د ابن حاجب مصري (متوفی٦۴٦هـ) په نحو کې.

شافیه د ابن حاجب مصري (متوفی٦۴٦هـ) په صرف کې.

الفیه د ابن مالك اندلسي (متوفی ٦۷۲هـ) په نحو کې.

مختصر التحرير لابن النجار فتوحي مصري (متوفی۹۷۲هـ) په حنبلي اصول فقه کې.

الآجرومية د ابن آجروم (متوفی۷۲۳هـ) په نحو کې.

بغية الباحث عن جُمل المورث (متن الرحبية) د موفق الدين رحبي (متوفی۵۷۷هـ) په میراث کې.

المقدمة الجزرية د ابن الجزري دمشقي (۸۳۳هـ) په تجويد کې او داسې نور.

زمونږ په سيمو کې الفقه الاکبر امام أبوحنيفه رحمة الله عليه (متوفی ۱۵۰) ته منسوب کتاب، مختصر القدوري د ابو الحسن قدروي بغدادي(متوفی ۴۲۸هـ)، کنز الدقائق د ابوالبرکات نسفي (متوفی ۷۱۰هـ)، اصول الشاشي د نظام الدين شاشي (متوفی۳۴۴هـ)، حسامي د حسام الدين اخسيکثي (متوفی۶۴۴هـ)، نظم مائة عامل – دري- د کمال الدين محمد هروي (متوفی۸۷۵هـ) او صرف بهايي دبهاء الدين آملي (متوفی ۱۰۳۰هـ) له خورا مهمو متونو څخه شمېرل کيږي.

## دوهم: د متونو د يادولو او تدريس غوښتنې

د متني کتابونو د زده کړې او تدريسي تګلاره په تيرو وختو کې په دوه مهمو ستنو ولاړه وه: ساده وسايل او علمي څواک:

۱. د وسايلو ساده ګي: په طبيعي توګه په پخوا زمانو کې د وسايلو کمښت و او دا يوه مثبته نکته هم بللی شو چې تدريس اسانه او ساده و او تر وسايلو پورې ډېر نه وتړلی. د يوې موضوع د زده کولو او د تدريس لپاره يواځې کتاب، قلم، کاغذ او کله کله خو يواځې کتاب هم کفايت کاوه چې استاذ او طالبان به يې سره راټول کړي وو چې دا بيخي ساده او لومړني وسايل دي.

۲. علمي څواک: له بلې خوا د وسايلو کمښت په علمي څواکمنۍ او ژورتيا سره جبيره شوی و، هر څوک شيخ او مدرس کيدی نشو، او هر څوک طالب العلم کيدی نشو. څو پورې به چې يو تن په ټولو مختلفو علومو کې متبحر نه و د تدريس پر مسند نشو کښيناستی، هلته د نن په څير علوم تجزيه او پر تخصصاتو دومره نه وو ويشل شوي، بلکې سره ګډ وو.

مونږ ګورو چې زمونږ متقدمين علماء هر يو يې د دائرة المعارف حيثيت درلود، او ډېرو يې د شيخ الاسلام، شمس الاسلام، شمس الأئمه امام، فريد عصره، ليس له نظير، جامع المنقول والمعقول . . . القاب خپل کړي وو.

مخکنيو علماوو د متونو د يادولو لپاره د هغو دغوښتنو د رعايت په هکله خپل اصول توصيات لرل:

۱. امام نووي (متوفی۶۷۶هـ) ويلي دي: طالب العلم ته ښايي چې په هر فن کې يو لنډ متن حفظ کړي او له خورا مهم څخه پيل وکړي، مثلا له فقهې او نحوې پيل وکړي، بيا حديث او اصول فقه، بيا ورپسې نور، او وروسته له هغه د محفوظاتو په شرح او توضيح باندې بوخت شي. هغه زياتوي: طالب العلم به

لومړی د قرآن کریم په حفظ پیل کوي ځکه همدا تر ټولو مهم علم دی، او سلفو علماوو به د حدیثو او فقهې علم هغه چاته ورښووه چې قرآن به یې حفظ کړی و.

۲. هغه متن غوره شي چې علماوو ورته ډیره پاملرنه کړې وي، د یادونې وړ ده چې منظوم متنونه ښه او ژر زده کیږي.

۳. د متنونو په حفظ کې باید تدرج – پړاویزتوب – او منطقي ترتیب رعایت شي؛ ټول څه په یو وخت کې حفظول یا بې ترتیبه حفظول د سلفو له لارې مخالفت دی او ښه پایله نه لري.

۴. له پای څخه به پیل نه کوي او په حفظ کولو کې به بیړه هم نکوي؛ ځکه څه شی چې په بیړه حفظ شي په بیړه هیریږي هم، نو د لومړني متن له پخېدو وړاندې به بل متن نه پیلوي. که له حفظ نه وروسته د هغه مراجعه او پخول ونه شي زده کړی متن به له یاده ووځي.

۵. له متن څخه مخکې به شرح او له مختصر څخه مخکې به مطول نه لولي، بلکې لومړی به متن او مختصر لولي او له یو تن استاذ څخه به یې ځان په معنی او مفهوم ښه پوه کوي او بیا به له هغه وروسته شروحو او مطولاتو ته ورځي.

۶. مبتدي طالب العلمان دې له ډېرو لنډو او ډېرو سختو مختصراتو څخه ډډه وکړي کوم چې معنی او مفهوم یې نشي درک کولی. ځکه د وخت له ضیاع سره، سره پرې مفاهیم ګډوډېږي او له علم څخه زړه تورن کیږي.

۷. چې د کوم متن لوستل پیل شول نو هغه دې په بشپړه توګه تکمیل کړي، او دا فکر دې نه کوي چې په دوهم ځل به یې پوره ولولي! بلکې داسې دې انګېرې چې دا کتاب بیا هیځکله نه لولي؛ نو همدا ښه فرصت دی او ټول مسایل دې ولولي او زده دې کړي.

۸ . د یوه متن د لوستلو پر وخت دې د بل علم متن ورسره یو ځای نه لولي تر څو یې ذهن متشتت نه شي.

۹ . ښه داده چې طالب العلم لومړی قرآن کریم حفظ کړي او له هغه نه دې د نورو متنونو په حفظولو نه بوختیږي. ځکه قرآن کریم د دیني علومو اصل او بنسټ دی[11]

## مونډنې او مناقشه

د څېړنې په بهیر کې د موضوع په اړه یوشمېر مونډنې په لاس راغلې چې په لنډه توګه یې یادونه کوو:

[11] - امام نووي، (متوفی۶۷۶هــ)، المجموع شرح المهذب: ۳۸۱۱، محمد بن عبد الله المقشي (...)، سلم المتون، ص:-۶۵ ۶۶، عبد العزیز، ۱۴۲۰هـ، الدلیل إلی المتون العلمیة، ص: ۴۰ – ۷۰.

۱. د متن په اصطلاحي تعريف کې که څه هم مختلف او متعدد عبارتونه مخې ته راغلل خو کولی شو چې هغه ټول په لاندې عبارت کې راټول او يو جامع تعريف ترې وکړو:

په وړه رساله کې راټول شوې مختصر کلمات چې ښکلي عبارتونه لري، په اسانه لوستل کيږي، الفاظ يې لنډ وي، معناوې يې زياتې وي، له تفصيلاتو او استطراداتو پاک وي؛ که د نظم په بڼه وي او که د نثر په بڼه متن بلل کيږي.

۲. د متونو متعدد او مختلف ډولونه ذکر شوي چې ظاهرا يو ډول تناقض ښکاري؛ خو کله چې له هر تقسيم سره د هغه ځانګړی اعتبار په نظر کې ونيول شي نو بيا تناقض دفع کيږي. لکه د زده کونکو د مستوی اعتبار، د زمانې اعتبار، د ليکنې دبڼې او طبيعت اعتبار او داسې نور.

۳. علامه ابن خلدون په تعليم او تدريس کې د ځينو متأخرينو پر متونو باندې نيوکه کړې او هغه يې د يسر او بلاغت پر خلاف او د مبتديانو په ضرر ګڼلي دي، خو که موږ د زده کوونکو د مستواوو له مخې د متونو وېش په نظر کې ونيسو نو د ابن خلدون انديښنه ورسره رفع کېدلای شي. ځکه متونه چې کوم غموض او سختي لري هغه څه عيب ندی، بايد زده کوونکی له يو عادي شخص نه يو څه امتياز ولري. خليل بن أحمد (متوفی۱۷۰هـ) ويلي: که غوښتلی مو چې مسايل داسې شرح کړو چې غبنتلی او کمزوری يکې دواړه برابر وي نو کولی مو شول، خو پکار ده چې تر موږ وروسته د زده کونکو د جهد او کوښښ امتياز څرګند وي.

۴. متونه او مختصرات د شروحو او مطولاتو په نسبت يو شمېر ځانګړتياوې لري؛ لکه:

۱. تاريخي قدامت

۲. د ژبې اصالت

۳. د افکارو اوتجاربو ځنځيري تسلسل

۴. د الفاظو قوت او دعبارت پوخوالی او ايجاز

۵. ثابت او واحد مرجعيت.

خو که دغو ځانګړنو ته ژور نظر وشي نو درک به شي چې له اختصار پرته نورې ځانګړنې يو شمېر شروح او مطولات هم له ځان سره لري، په ځانګړې توګه کله چې د متن او مختصر مؤلف په خپله خپل متن شرح کړی وي او يا يې په عين موضوع کې بل مفصل کتاب ليکلی وي، لکه د (بداية المبتدي) متن او (هداية) دهغه شرح چې دواړ د برهان الدين مرغيناني (متوفی۵۹۳هـ) رحمه الله ليکنه ده.

خو کیدلی شي چې نومړې ځانګړتیاوې په متونو کې زیاتي او اغلبې وي او په شروحو او مطولاتو کې بیا د هغو په نسبت کمې وي. والله اعلم.

۵. امام نووي او یو شمېر نورو علماوو د متونو د زده کړې او تدریس په اړه په خپلو توصیو کې دا هم ویلي چې: طالب العلم ته ښایي چې په هر فن کې یو لنډ متن حفظ کړي او له مهم څخه پیل وکړي، مثلا له فقهې او نحوې پیل وکړي، بیا حدیث او اصول فقه، بیا ورپسې نور، او وروسته له هغه د محفوظاتو په شرح بوخت شي. همداسې لومړی به طالب العلم د قرآن کریم په حفظ پیل کوي او وروسته له هغه به حدیث او فقه وایي، له متن څخه مخکې به شرح او له مختصر څخه مخکې به مطول نه لولي، په یو وخت دې دوه مختلف متونه نه لولي.

خو په پام کې مو وي چې د متونو په اړه پورتنی ډېری لارښوونې د مبتدئینو طالب العلمانو لپاره دي چې دلسانس مرحلې له محصلینو سره توپیرونه لري. په همدې توګه پخوا دغسې تحصیلي او تعلیمي مؤسسې دومره نه وې چېرته چې نن سبا په یو وخت کې پکې په لسګونو متخصص استاذان شتون لري او د یوه ګڼ او دقیق تقسیم اوقات له مخې په یو وخت کې ګڼ او مختلف مضامین تدریس کیږي.

نورې لارښوونې او توصیات بیا نن سبا په ټولو تعلیمي او تحصیلي مؤسساتو کې د رعایت او التزام وړ دي.

نن سبا چې له یوې خوا د وسایلو پرېماني ده او لاس رسی ورته هم تر ډېره بریده اسانه دی، او له بلې خوا د علمي ودې او پراختیا له کبله د درسي منهج او نصاب له پاره متونه، شروح، حواشي، تعلیقات، تنقیحات، اختصارات، تهذیبونه ... په ښه توګه چمتو شوي او د کتاب او برېښنایي لیک په بڼه تر لاسه کیږي. نو ښایي چې د متونو تدریسي بهیر د هغو د ټولو تخنیکي او علمي غوښتنو په نظر کې نیولو سره تر هر وخت زیات په زړه پورې او نتیجه ورکونکی وي.

د شرعیاتو او اسلامي علومو په پوهنځیو کې د متونو د تدریس په بهیر کې زده کوونکي او استاذان ښایي لاندې نکتې په نظر کې ونیسي:

- زده کوونکي دې د متن مهمې برخې حفظ کړي.
- زده کوونکي دې هر نوی درس له پخوا څخه ځان سره ژور ولولي، که یې ستونزې لرلې په تکرار سره دې ولولي او ښه فکر دې پکې وکړي.
- که یې خپله ونشو کولی ستونزه حل کړي نو کوښښ د وکړي د متن له حواشیو څخه په استفادې سره د ستونزې حل پیدا کړي.

- که یې بیا هم ستونزه حل نه کړی شوه د نوموړي متن شرحې ته دې مراجعه وکړي او له هغې څخه په استفادې سره دې ستونزې حل کړي.
- که ستونزې حل نه شوې، ستونزې دې په نښه کړي او د درس په بهیر کې دې ورته ځانګړې توجه وکړي؛ که ستونزې بیا هم حل نشوې له استاذ سره دې مستقلا مطرح کړي.
- استاذ دې کوښښ وکړي متن پر زده کوونکو باندې ولولي څو پوه شي چې زده کونکو درس په کوم حد کې مطالعه کړی؟ څومره پوهیدلي او کومو ځایو کې ستونزې لري؟
- استاذ دې د عربي ژبې او د هغې د قواعدو په رڼا کې د متن الفاظ تحلیل او توضیح کړي پداسې توګه چې مفهوم یې په ټوله معنی روښانه او هېڅ ډول ابهام پکې پاتې نشي.
- که نوموړی متن شرح ولري استاذ دې ارومرو شرح ورسره وګوري او خپل ټاکلی تدریس دې ترې چمتو کړي.
- که متن شرح نه لرله نو استاذ دې په همدغه موضوع کې نسبتا تفصیلي کتاب ته مراجعه وکړي.
- که متن منظوم وي کوښښ دې وکړي چې که همدغه موضوعات په منثوره بڼه موندل کیدل نو هغه دې ورسره وګوري.
- که عین موضوع د دوو تنو له خوا لیکل شوې وه استاذ دې کوښښ وکړي دوهم متن ته هم مراجعه وکړي.

**پایلې**

د (شرعیاتو پوهنځیو په درسي منهج کې د متنونو ارزښت- ځانګړتیاوې او غوښتنې) تر عنوان لاندې پورتنۍ لنډې او ځغلندې څېړنې څخه لاندې پایلې په لاس راغلې:

۱. د علم زده کړه یوه شرعي فریضه، غوره عبادت او الله پاك ته د قربت تر ټولو ښه وسیله ده. محصلینو او طالب العلمانو ته چې د علم په زده کړه کې ښه مرسته کولی شي هغه د درسي منهج او نصاب د یو لړ علمي متنونو حفظ او ښه لوستل دي.

۲. په مناهجو او نصابونو د بدلون او پراختیا په حال کې دې د متنونو برخلیك روښانه، ډاډمن او د زیاتې پاملرنې وړ وي.

۳. د شرعي علومو د زده کوونکي په اعداد او په هغوی کې د فقهي ملکې پیدا کولو کې د متنونو او مختصراتو د حفظ او یادولو رول خورا څرګند دی.

۴. متن د یوه علم مدخل دی چې زده کوونکی په لږ وخت او اسانې سره پرې د علم تل ته لاره کولی شي.

۵. د شرعیاتو او اسلامي علومو پوهنځیو په تعلیمي منهج او نصاب کې اصلي متونه ګڼ شمېر ځانګړتیاوې لري چې د نوموړو متونو په تدریس کې ځانګړي غوښتنې را مینځ ته کوي او د منهج د مؤثریت او افادیت لپاره یې رعایت اړین دی.

٦. تاریخي قدامت، د ژبې اصالت، د افکارو او تجاربو ځنځیري تسلسل، د الفاظو قوت، د عبارت پوخوالی او ایجاز، ثابت او واحد مرجعیت د علمي متونو او مختصراتو له مهمو ځانګړتیاوو شمېرل کیږي.

۷. مخکنیو علماوو د متونو د یادولو لپاره د هغو د غوښتنو د رعایت په هکله خپل مهم او ګټور توصیات لرلي دي چې کولی شو د شرعیاتو او اسلامي علومو پوهنځیو په نصاب کې د متونو په زده کړه او تدریس کې ترې ستره ګټه پورته کړو.

۸. نن سبا چې له یوې خوا د وسایلو ډېرښت او پرېمانې ده او لاس رسی ورته هم تر ډېره بریده اسانه دی، او له بلې خوا د علمي ودې او پراختیا له کبله د درسي منهج او نصاب له پاره متونه، شروح، حواشي، تعلیقات، اختصارات، تهذیبونه... په ښه توګه چمتو شوي او پرېمانه تر لاسه کیږي نو د متونو په تدریسي بهیر کې د هغو د ټولو تخنیکي او علمي غوښتنو په نظر کې نیول د هغو د لا افادیت او مؤثریت له پاره تر هر وخت زیات اړین دي.

**سپارښتنه**

د شرعیاتو د متخصصو استاذانو یوه کمیټه جوړه شي څو د شرعیاتو پوهنځیو د درسي نصاب لپاره مناسب متونه غوره او له خپلو غوښتنو سره د نصاب برخه وګرځول شي.

**سرچيني**

ابن خلدون عبد الرحمن بن محمد بن محمد، ابن خلدون أبو زيد، ولي الدين الحضرمي الإشبيلي (المتوفى: ٨٠٨هـ)، ديوان المبتدأ والخبر في تاريخ العرب والبربر ومن عاصرهم من ذوي الشأن الأكبر (تاريخ ابن خلدون)، المحقق: خليل شحادة، الناشر: دار الفكر، بيروت، الطبعة: الثانية، ١٤٢٠هـ.

ابن فارس أحمد بن فارس بن زكرياء القزويني الرازي، أبو الحسين (المتوفى: ٣٩٥هـ)، معجم مقاييس اللغة، المحقق: عبد السلام محمد هارون، الناشر: دار الفكر، ١٣٩٩هـ .

ابن منظور محمد بن مكرم بن على، أبو الفضل، جمال الدين ابن منظور الأنصاري الرويفعى الإفريقى (المتوفى ٧١١هـ)، لسان العرب، الناشر: دار صادر– بيروت، الطبعة الثالثة - ١٤١٤هـ.

عبد العزيز بن إبراهيم بن قاسم، الدليل إلى المتون العلمية، الناشر: دار الصميعي للنشر والتوزيع، الرياض - المملكة العربية السعودية، الطبعة: الأولى، ١٤٢٠ هـ -.

محمد بن عبد الله المقشي، سلم المتون في مختلف الفنون (پرته له نورو مشخصاتو).

النووي أبو زكريا محيي الدين يحيى بن شرف النووي (المتوفى ٦٧٦هـ)، المجموع شرح المهذب - مع تكملة السبكي والمطيعي-، المؤلف: الناشر: دار الفكر.

أبو مالك العوضي، لماذا ينصحُ أهلُ العلم بحفظ المتون؟ مقال: (على صفحته في موقع الألوكة)

إسماعيل عبد عباس، تعريف المتون وأقسامها، تاريخ الإضافة: ٢٠١٩\٢\٥ ميلادي – ١٤٤٠\٥\٢٩ هجري، رابط الموضوع https://www.alukah.net

إسماعيل عبد عباس، فوائد حفظ المتون، تاريخ الإضافة: ٢٠١٩\٢\١٢ ميلادي – ١٤٤٠\٦\٦ هجري https://www.alukah.net

أمين صالح غماز٢٠١٥م، المتون العلمية ودورها في إعداد طالب العلم الشرعي.مقال علمي بصفحة قسم الدراسات الاسلامية بكلية العلوم والآداب للبنات بتهامة، جامعة الملك خالد.